



د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



انجينر محب الرحمن « خطيبي »

د نشرنيټه : 22 اکتوبر 2017 م

# زموږ بدبختي

نه وطن ســـره شته مينه نه يو بل ته احترام دی
په هر ګوټ کې ځاڅي وينه داد جهل لوی انعام دی

که د پوهې رڼا نه وي کړو به ژوند تل په تورتم کې
که په کورکې خندا نه وي هغه کورکې غم مدام دی

په ظاهر کې چې خاين وي ته باطن نه څه ګيله کړې
چې دښمن باندې مين وي ورته بيا څه احترام دی

ټول چې ګوری خاماران دي هوصيلې نکړي يوبل ته
دا نو څه رنګ انسانان دي چې وطن له دوي بد نام دی

محب وايي ؛ دی پردی دی چې پلوري وطن پردو ته
دا همغه پرنګی دی، هم تسبيح لاس کې هم جام دی

***

محب الرحمن « خطيبي »

www.said-afghani.org بازګشت به صفحه اصلی